مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیر محمد امیني ستانکزی ۲۰۲۰/۰۴/۱۱

# کورونا مرګوني ده، له ګوره کور ښه دی!

کورونا مرګوني ناروغي وژونکي ده، چې د هېواد په ګډون ټوله نړی کې خپره شوې او ورځ تر بلې په پراخيدو ده، په هېواد کې د يادې ناروغۍ په خپريدو تردې مهال (۵۲۱) مثبتي پيښې ثبتې شويدي او (۱۵) کسه مړه شوي، چې دخلکو اندېښنې هم ورسره زياتي شوېدي.

د دغه ويروس خپريدل په هېواد کې اصلي سرچينه يې له ايران څخه وه، ايران له چين وروسته هغه هېواد دی، چې په کې د يادې ناروغۍ له کبله ډيری کسان پرې اخته شوې او له هغه وروسته امريکا، ايټاليا، هسپانيا او نورو هېوادونو ته ورسيدل، چې تر دې مهاله په امريکا او افريقايي هېوادونو کې ډيری کسان پرې اخته او مړه شويدي .

د کورونا ويروس له امله نړی په سخت حالت کې قرار لري او وګړي يې سخت له ګواښ سره مخ کړې دي. ياد ويروس ټول بشريت ګواښي، چې يو هېواد هم ورنه خوندي نه دی، تر دې مهاله د نړۍ پرمختللي هېوادونه نه دي توانيدلي، چې د دغه ويروس لپاره درمل يا واکسين جوړ کړي، خو د روغتيا نړيوال سازمان يوازينی درملنه اوله خلکو نه يې غوښتنه داده، چې په خپلو کورونو کې پاتې شي، څو د يادې ناروغۍ څخه خوندي واوسي .

که څه هم په دې ورستيو وختونو کې د هېواد او د کابل په شمول ښارونه قرنطين او د خلکو پر وړاندې ګرځبنديز لګول شوې، بيا هم د خلکو ګڼه ګونه د پخوا په څير ليدل کيږي او خلک بې تفاوتي د يادې ناروغۍ په وړاندې ښکاره کوي .

د روغتيا نړيوال سازمان او د هېواد د عامي روغتيا وزارت له خلکو نه هيله من دي، چې د کورونا ناروغی جدي ونيسي، ټوکې او ټکالې دې نه ګڼي، همدارنګه توصيه کوي، چې د يادې ناروغۍ څخه ځان ژغورل روغتيايي پيغامونه چې د رسنيو او ټولنيزو شبکو له لارې خپريږي ورباندې سم عمل وکړي .

افغانان د سُنتي او مذهبي کلتور په درلودو، نه غواړي، چې ياد کلتور لکه؛ په غيږه او لاس ورکولو روغبړ، د ښاديو او غميزو ورځو په لمانځنه کې ګڼه ګونه جوړل او ورته حالات دي، چې د دوی په باور به له منځه لاړ شي، نه هيڅکله دغه اسلامي او افغاني کلتور له منځه نشي تللی، بلکې د يو څه وخت لپاره چې کورونا ويروس له منځه يوړل شي، بيا به د پخوا په څير خپل کلتور پياوړی او وده به ورکړو، ځکه دا ويروس خطرناک او وژونکی ده، چې ډير په اسانۍ له يو انسانه بل ته انتقاليږي .

د روغتيايي کارپوهانو او د چين هېواد د تجربو نه دا ثابته شوې، چې بايد ځانونه قرنطين کړو او د ګڼه ګونو ځايونو، ناستو او غونډو نه په جدي ډول پرهيز وکړو.

سمه ده، چې افغانستان يو غيور ملت دي او افغانان په اسلامي عقايدو ولاړ خلک دي، خو اسلام کې هم ويل شوي، چې هغه ځايونو نه پرهيز وکړئ، چې تاسو ته يکې زيان واقع کيږي. کورونا ويروس دا پولي نه پيژني، نه مسلمان پيژني او نه غير مسلمان.

که موږ افغانان همداسې د بې ځايو سرتمبکۍ له کبله کورونا ويروس جدي ونه ګڼو، نو لري به نه وي، چې په خپل لاس به مو ځان، کورنۍ او ټولنه د هلاکت کندې ته غورځولي وي .

د خدای په لحاظ په خپل عظيم ملت، خپل ځان، کورنی او نورو باندې زړونه وخوږوئ، له دغې خطرناکې ناروغۍ په وړاندې مبارزه، چې په کورونو کې ځان قرنطين کول او د روغتيايي پيغامونو باندې عمل کول د ټولو هېوادوالو ايماني او وجداني دنده او مسئوليت ده، چې پر ځان يې تطبيق کړي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که چیرته بې غورې ښکاره کوو، نو ژر به د هېواد په کچه یو لوی انساني ناورین به خدای مه کړه رامنځته شي، بیا به مو په وس هیڅ څه نه وي پوره چې ځان ورنه خوندي کړو.
نور راځئ، درنو هېوادوالو! د کورونا ویروس پر وړاندې جدي واوسو، د خلکو ژوند ته ګواښ پیښ نه کړو، ولس ته د دغه کرغیړن ویروس په اړه عامه پوهاوی وکړو او د خپل وس په توان له بېوزلو سره مرسته په دغه دردېدلې حالاتو کې وکړو.

حکومت، ملي او نړیوال سوداګر، شتمن او بډایه ولس باندې غږ کوو، چې د بېوزلو کورنیو سره خپلې مرستې ونه سپموي، همدارنګه سوداګر او هټیوال دې نه باید د توکو په پیرلو کې له حده زیات نرخونه لوړ کړي؛ بلکې په دې لویدلي حالاتو کې د بې چاره ولس لاسنیوی وکړي.

اړونده اداره دې لاس تر زنې نه کیني، چې د خلکو اقتصادي وضعیت له نېشت سره مخ شي؛ بلکې د نرخونو څارنه او د بهرنیو هېوادونو څخه د مرستو په راجلبولو کې هڅې وکړي، څو د هېوادوالواړتیاوې پوره کړي .

سوداګراو هټیوال ترڅو کولای شي، د اسلامیت او انسانیت له مخې بېوزلو هېوادوالو باندې هر ډول توکي په ارزانه او ټیټو بیو وپیري او هېوادوال دې په جدي توګه دکورونا ویروس په وړاندې مبارزه وکړي . ځکه کورونا مرګونې ناروغۍ ده، له ګوره؛ کور ښه دی او په خپلو کورونو کې پاتې شئ، څو له یادې ناروغۍ نه په امن کې شئ!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ